انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۲۲/۰۵/۱۱

# برخه

که د نړۍ ټوله ښکلا هم شي دا ستا برخه
په مایی څه، چې پکې ونه شي زما برخه

یوه پیړۍ کیږی چی شپه ده او تیارې خورې دي
زما د کور انګړ کی ، نشته د رڼا برخه

لوټ او تالا ده ګډه شوې ، هرې لار کوڅې کی
نشته دا پته ، چی چا وخوړه د چا برخه

عجب حالت دی مینه مرې او کرکه غبرګه زیږې
غم رسیدلی دی، ټول ماته د دنیا برخه

په مایی څه ، که ستا نړۍ له نعمتو وی ډکه
چی په ټول عمر ، درویزه ده د ګدا برخه

په زرکرته کلیوال دی، ستا له خیر توبه ګار
خو مه را لیږه ، راته شر دا ناروا برخه.

جنوری/۲۵/۲۰۲۲

ایجکس – تورنتو - کاناډا



برای مطالب دیگر انجنیر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید


لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com